سلطان کلیوال

۲۰۲۰/۰۶/۲۸

# حیرانتیا!

یو ګناهګار شي په کتو، بل یی په کړو ښاغلی

یو ملامت په سمه لار، بل په کړو ښاغلی

یو بی له جرمه شي مجرم، د زولنو لایق شي

خو بل مجرم شي، د انسان په سوزیدو ښاغلی

یوچي رینتیا وینا کوی، خطریی سرته پیښ شي

بل محکمه کی، د رینتیا په پټیدو ښاغلی

یو چی وطن ساتی او پټ ساتی، کافر باله شي

بل د وطن په ورانیدو، تباه کیدو ښاغلی

یوکه تطبیق د قانون غواړي، ورنه کرکه کیږی

بل د قانون په سپکیدو، او ماتیدو ښاغلی

یو چی رنځور را رغوی، نو مافیه یی ګڼي

بل د رنځور نه د نفس، په اخستو ښاغلی

یمه حیران دا "کلیوال"، په کوم مرض اخته شول

چی هریو ځان ګڼي، پردو ته په سجدو ښاغلی

جون/۲۶/۲۰۲۰

ایجکس - تورنتو- کاناډا

**** **** ****



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com